# د پښتو په کلاسيکې شاعرۍ کښې د غزل اثرات

**Impacts of Ghazal on the ancient period of Pashto poetry**

ډاکټر محمد عرفان خټك

**Abstract**: *This paper explores the very primitive forms of Ghazal in Pashto poetry. It is usually believed that, Pashto GHAZAL has been adopted as poetic form from the Persian literature in the prestigious classical period on 16th -17th century. This paper further investigates that, while considering the technical and thematic characteristics one can find GHAZAL in the ancient period of Pashto poetry. This claim is supported through references and argumentation and discussion gradually leads towards conclusion.*

هر څو که د پښتو لرغوني قديمې او کلاسيکې شاعري د غزل نه محرومه پاتې شوې ده. خو ولې بيا هم د دويمې صدۍ هجرۍ نه تر اتمې صدۍ هجرۍ پورې موده کښې چې څومره پښتانهٔ شاعران تېر شوي دي د هغو په ملي او عروضي اشعارو کښې د حسن و عشق، د فراق او بېلتون، د عشق حقيقي د اسرار او رموز، د سوز او ګداز، د دنيا د بې ثباتۍ او بې وفائۍ، د دردېدلو جذباتو او احساساتو، د حماست او رجزيت، د صوفيانه نظرياتو او د حسن و جمال نه ډکو افکارو په اساس دا خبره ځائ نيسي چې په دغه دور کښې به هم د پښتو عروضي او ملي غزل ضرور وئيلې شوې وي. او ټولو شاعرانو به خپل عشقي کېفيات او احساسات د غزل په بڼه کښې ارو مرو بيان کړي وي. خو د بده مرغه په تاريخ کښې خوندي شوي نهٔ دي.

د امير کروړ (139هـ) نه واخلې د شېخ ملکيار هوتك (749هـ) تر زمانې که د پښتو ژبې د لرغونو شاعرانو د کلام جاج واخستې شي نو د هغو د تخيلاتي مېلاناتو، افکاري او تصوراتي صلاحيتونو، د کلام د مضامين او محاسنو، د قلبي وارداتو او جذباتو کيفياتو نه به داسې نتيجه راوزي چې د خپل دور په غزلګوئۍ به دلالت کوي.

دا خبره اکثرو محققینو کړې هم ده چې د پښتو ادب د ابتدائي شاعرۍ جوت اثرات د هر عصر او هرې زمانې د غزل په تنه بوده کښې برېښي. هغه که د تصوف د فلسفې شوخ رنګونه دي که د عشقي کیفیاتو او جذباتو اثرات دي او که د ملي اوزانو یا د عروضي شاعرۍ کړۀ وړۀ دي. دغه متنوع رنګونه او اثرونه په پښتو شاعرۍ کښې د ابتدا نه را روان دي او همدغو ملي او عروضي خصوصیاتو پښتو شاعرۍ کښې د غزل رواج ته لار سمه کړې ده ځکه چې د اسلام اثرات په دویمه صدۍ هجرۍ کښې په دې سیمه کښې جوت شوي وو. او 139هـ وړومبی پښتو نظم چې د امیر کروړ ویاړنه یادېږي هم د اسلامي فتوحاتو او د جهاد د پښتني جذبې اغېزه ښکاري. نو دا څنګه کېدی شي چې غزل به د عربي ادب د فارسۍ په واسطه یا نېغ په نېغه د پښتو شعر و ادب میدان ته پښۀ نۀ وي راغزولې. په تېره تېره د ابو محمد هاشم (223هـ 297هـ) د سالو وړمه نه دا معلومېږي چې د عربۍ ژبې فصاحت او بلاغت او شاعرانه کمالات ارو مرو پښتو ته را ننوستي شوي وو"(1)

مونږ چې د اسلام او پښتون قام سرشت ته ګورو او په پښتو شاعرۍ د اسلام ژور اثراتو ته ځیرنه کوو نو دا خبره تسلیموو چې د عربۍ ادب نه شروع دا صنف فارسۍ، پښتو، اردو، ترکۍ او څو نورو ژبو ته ورسېدو.(2).

مونږ دا خبره هم په وثوق سره کولی شو چې د پښتو شاعرۍ ابتدا سره سم غزل هم د پښتو ادب په کالۀ کښې سترګې غړولې دي ولې له بده مرغه تر اتمې صدۍ هجرۍ د پښتو شاعرۍ کومې لرغونې نمونې چې بیا موندی شوي دي د هغو تولو د شاعرانه ذوق، ملي او عروضي کړۀ وړۀ نه دا اندازه لګي چې پښتو غزل د دویمې صدۍ هجرۍ او د اتمې صدۍ هجرۍ په زمانه کښې هم وئیلی شوی دی. خو چې مونږ سره ئې څۀ نمونې نشته نو ځکه مونږ د ترلاسه شوي کلام په بنیاد پښتو شاعرۍ کښې په باقاعده توګه د غزل شروع د اتمې صدۍ هجرۍ د اکبر زمینداور د غزل نه کوو.

هر څو که د پښتو غزل روایت د اکبر زمینداور نه شروع کیږي ولې د دې خبرې نه هم انکار نۀ شي کېدی چې د پښتو د ابتدائي دور د شاعرانو په کلامونو کښې داسې مضامین مونـدی شي او دا رنګ جذبات، احساسات، عشقي واردات، معاملات او قلبي کیفیات ترې څرګندیږي چې د هر دور او د هرې زمانې د غزل او غزلګوئۍ ښکلا او سپېڅلتیا پرې جوړه ده.

په دې لړ کښې ښاغلی پروفېسر محمد نواز طائر لیکي:

"غزل په اصل کښې زمونږ د تقلیدي ادب د ټولو نه اهمه برخه ده. دا پښتو ته د فارسۍ نه راغلی دی. او د عروضي ترتیب او ترکیب پابند دی. په دې کښې باقاعده د قافیې ردیف پابندي لازمه ده. له دې کبله محض د تغزل په خاطر دې ته غزل نۀ شي وئیلی کېدی. ځکه چې دا خوبي په پښتو شاعرۍ کښې د پخوا راسې موجوده وه او اساس ئې د معشوقو سره د راز و نیاز په مشغولاؤ. خو د عشق و محبت دغه شاعري د عروضو پابنده نۀ وه"(3).

د نواز طائر صاحب وینا نه دا خبره نوره هم تصدیق ته رسي چې پښتو شاعرۍ سم د سره د تغزل رنګ لرلو او هم د عشق و محبت په پرسوزه نغمو معموره وه. ولې د عروضي پابندۍ څخه ازاده وه. نو ځکه په یو خاص صنف پورې تړلې کېدی نۀ شوه. همدغه وجه ده چې امیر کروړ (139هـ) په خپل کلام کښې د خپلې بهادرۍ تذکره کړې ده. په خپله مړانه او توره ئې د فخر او ویاړ څرګندونه کړې ده. نو د هغۀ کلام په ویاړنه یاد شوی دی او چې د بېټ نیکۀ کلام د حمد و دعا په رنګ کښې دی نو په مناجاتو ئې شهرت مونـدلی دی. هرکله چې مونږ د پښتو شاعرۍ په دغه برخه کښې د غزل د رنګ جوتې لټون کوو. نو د پښتو شاعرۍ معلومو اثارو د وړومبي اثر ویاړنه نه دا اندازه لګي چې دۀ به په پښتو ملي غزل کښې ضرور طبع ازمائیلې وي او د یو شاعر نه چې د حسن او عشق د کومو خبرو توقع کېدی شي هغه به دۀ د پښتو د ملي غزل په رنګ کښې کړې وي. د پښتو غیرت مړانې ویاړنې لیکونکي د

زوروري طبعي شاعر نه مونږ ضرور دا طمع لرلی شو چې د خپل ناقراره زړۀ قرار به ئې د حسن و عشق په رموزو کښې هم لټولی وي. ځکه زمونږ په خيال که د پښتو نظم ابتدا د معلوم شوي مواد په رڼا کښې د دوېمې صدۍ هجرۍ په ابتدائي دور کښې ټاکو. نو د پښتو غزل شروع هم د دغه دور نه ټاکلی شو"(4).

د ښاغلي پروفېسر افضل رضا د پورتني اقتباس نه دا خبره ځرګندېږي چې که هر څو د امير کروړ وياړنه نظم دی غزل نۀ دی ولې بيا هم د دۀ د نظم ملي او عروضي رنګونو د غيرت او پښتونولۍ د تاودو او تاندو جذباتو نه دا توقع کېدی شي چې دۀ به د خپل مزاج له رويه د پښتو ملي غزل وئيلی وي او دغه خبره د دۀ د نظم د شوخۍ جذباتيت او د ناقرارۍ نه ثابتيږي هم.

د دې نه وروستو د درېمې صدۍ هجرۍ په شروع کښې مونږ سره د تاريخ په پاڼو کښې د محمد هاشم سرواني د کلام نمونه خوندي ده. د دوئ د ژوند ژواك زمانه 223هـ 297هـ قياس کړی شوی دی. (5).

دغې ښاغلي شاعر د حصول علم په تکل کښې په بست او عراق کښې ژوند تېر کړی دی. په عربۍ، فارسۍ او پښتو کښې ئې معياري او پاخۀ پاخۀ اشعار وئيلي دي. د خپل استاذ ابن خلاد ځنې شعرونه ئې پښتو کښې ترجمه کړي هم دي. د سالو وړمه د محمد هاشم سرواني د عربۍ نه په پښتو کښې ترجمه کړی شوی د شعر د فصاحت او بلاغت يو داسې غير معمولي کاوش دی چې مونږ ته دا ښائي چې محمد هاشم سرواني داسې ستر عالم او شاعر ؤ چې په عربۍ، فارسۍ او پښتو کښې ئې د شعر او نثر د هر قسمه ادبياتو د تخليق او ليك پوره پوره صلاحيت لرلو. هرکله چې د محمد هاشم سرواني فکر و ذهن د دغو واړو ژبو سره دومره مانوسيت درلود. نو څنګه به ئې د دغو ژبو د شعري اصنافو څخه استفاده نۀ وي کړې. او څنګه به د دغو ژبو د غزلګوئۍ د اثر نه بچ پاتې شوی وي. د دغې نکتې نه دا خبره ځرګندېږي که د درېمې صدۍ هجرۍ په اغاز کښې هم په پښتو ادب کښې باقاعده طور غزل نۀ دی وئيلی

شوی خو د غزلګوئی داسې جوت او شوخ اثرات د پښتو د شعر په بڼه مرتب شوي ضرور دي چې د وروستو راتلونکو شاعرانو پام ئې د غزل په لور راګرځولی دی او په پښتو شعر و شاعرۍ کښې ئې د غزلګوئۍ رواج ته لار ښائيلې ده.

دغه رنګ چې د څلورمې صدۍ هجري د پښتو د شاعرۍ تاريخ وکتی شي نو د شيخ رضي لودهي او نصر لودهي نومونه په کښې لکه د تابداره ګوهرو پرقيږي. د دغې دوارو شاعرانو په افکارو کښې د اسلامي جذباتو او احساساتو روح ځرګند دی. د اوزانو او بحور په لحاظ ئې شعر خالص ملي عروض لري په دغه اساس ترې د ملي غزل توقع په شدت سره کولی شي. د شيخ رضي او نصر لودهي د معلوم کلام نه دا معلوميږي چې دوئ به ارو مرو د پښتو ملي غزل کښې طبع ازمائيلې وي.(6)

شيخ رضي لودهي او نصر لودهي چې په ملي وزن کښې کوم پارکي کښلي دي په هغو کښې د ملي غزل رنګ ښۀ جوت او شوخ ليدی شي. هم د دغې صدۍ هجرۍ بل شاعر بېټ نيکۀ (300هـ تا 400هـ) ياديږي چې يو صالح بزرګ، عارف او نېك بنيادم ؤ اکثر به ئې د خپل خدائ نه دعاګانې غوښتې. دغه مناجات او دعاګانې بېټ نيکۀ په منظومه توګه د ملي سندرو په رنګ او اهنګ کښې وئيلي دي. د دۀ په اشعارو کښې سادګي او رواني ده. خيال او فکر ئې سپېځلې او پاك دی. ژبه ئې سوچه خالصه او خوږه ده. د دۀ د مناجاتو اسلوب، وزن او اهنګ هوبهو د پښتو د ملي او اولسي سندرو په شان دی نو ځکه خو دا خبره تصديق ته رسي چې بېټ نيکۀ به د عشق حقيقي د تصوف او معرفت ډېر غزلونه وئيلي وي خو هرکله چې مونږ سره د هغو غزلونو نمونې نشته نو دغه دعویٰ بې ځايه ښکاري ولې د دې خبرې نه خو سترګې نۀ شي پټېدی چې د بېټ نيکۀ په مناجاتو کښې داسې خيالات، افکار، تشبيهات، استعارات او مضامين موندی شي چې د پښتو د غزل په تنه بوده کښې په ځۀ نه ځۀ رنګ کښې وجود لري.

د ښېټ نیکهٔ په انغري لوئ شوی شاعر شېخ اسماعیل هم د دغې صدی، هجری، سره تړون لري. د دوئ زمانه (500 هـ) خوا و شا یاده شوې ده. شېخ اسماعیل د ښېټ نیکهٔ زوئ ؤ. او لکه د خپل پلار ئې په زهد، تقوٰی او نېکی، کښې ښهٔ نوم پیدا کړی ؤ. د تصوف، عرفان او معرفت سپېځلي اشعار ئې وئیل. د شعر ژبه ئې سوچه او ساده وه. د دهٔ د وعظ و پند د اشعارو د تصوفي مضامینو د سوز ګداز او د درد ډېدلو جذباتو او احساساتو نه دا اندازه لګي چې دهٔ سره هم د غزل ملکه وه. او ښهٔ معیاري پاخهٔ او ساده غزلونه به ئې وئیلي هم وي. شېخ اسماعیل نه وروستو په پښتو شاعری، کښې د وئیلو شوو غزلونو په بڼه کښې د تصوف او وعظ و پند کوم شوخ چاپونه لیدی شي دا د دې خبرې غمازي کوي چې د پښتو غزل په زمکه د دې تېرې زمانې د شاعری، نه څهٔ زړې شندلي شوي دي. د څهٔ په برکت چې ورپسې دور کښې بیا غزل زېږېدلی دی. ځکه چې د خرشبون د ښلتون د لاسه چې شېخ اسماعیل کومې نارې وهلې دي هغه اګرچې د فني غزل شعرونه نهٔ شي ګرځېدلی ولې د جذباتو له مخه ښخې د غزل شعرونه معلومېږي"(7).

که چرې مونږ د شېخ اسماعیل د کلام جاج واخلو نو په دې خبره به سره متفق شوو که چرې د دې صوفي شاعر په کلام کښې د عروضي غزل کړهٔ وړهٔ نشته ولې په ملي غزل کښې به ئې ضرور څهٔ نهٔ څهٔ درلودهٔ. او په خصوصیت سره دا چې د خرشبون د ښلتانهٔ د لاسه چې ئې کومې د سوز او درد نه ډکې نارې سورې وهلې دي. د هغو په هر اړخ د جذباتیت په بنیاد د ملي غزل کړهٔ وړهٔ په نظر راځي. په همدغه زمانه کښې د ښېټ نیکهٔ په اولاد کښې یو بل شاعر شېخ خرشبون هم تېر شوی دی. خرشبون د شېخ اسماعیل همعصر ؤ او لکه د پښتو د نورو لرغونو شاعرانو په رنګ ئې کلام ناپېد دی. ولې هغه سوز او ګداز نه ډك څو اشعار ئې په تاریخ کښې خوندي دي. چې دوئ د خپل ښلتانهٔ په اثر کښې د شېخ اسماعیل د سوزه ډکو نارو په جواب کښې رقم کړي دي. د شېخ خرشبون د دغو اشعارو څخه دا معلومېږي چې د دهٔ د فکر په للمه هم د غزل

کرونده شوې وه. ځکه چې په کلام کښې ئې لکه د شیخ اسماعیل خالص د ملي غزل رنګ ځلیږي.

کله چې مونږ د پښتو شاعرۍ د پینځمې صدۍ هجرۍ تاریخ ګورو نو د اسعد سوري غونډې د تشبیهاتو او استعاراتو استاذ په مخه راځي. د اسعد سوري (425هـ) د شاعرۍ زمانه د څلورمې صدۍ وروستۍ برخه او د پینځمې صدۍ شروع تاکلې شوې ده. ځکه چې د دغه زمانې د غور د حاکم محمد سوري په مړینه د دوئ د دردېدلو جذباتو او نوحي احساساتو نه ډکه مرثیه مونږ سره موجوده ده. د دوئ په شاعرۍ کښې د تشبیهاتو او استعاراتو او نورو ګڼو فني خوبیو په بنا دا خبره مخې ته راځي. چې اسعد سوري مرثیه ګوئۍ سره سره په قصیده نګارۍ کښې هم ژور لاس درلود. دغسې که یو خوا د دوئ د مرثیه نګارۍ په کره ورۀ کښې د غزل رنګونه برېښي نو بل پلو دا خبره هم ځائ نیسي چې هرکله اسعد سوري په قصیده ګوئۍ کښې هم طبع ازمائیلې ده نو بیا به د غزل په فن هم ښۀ پوه ؤ. ځکه چې پښتو ته غزل د فارسۍ نه راغلی دی او فارسیبانو د عربۍ قصیدې نه د تشبیب په جدا کولو غزل زېږولی دی. په دغه اساس د اسعد سوري د قصیده ګوئۍ سره مانوسیت د دۀ په غزل ګوئۍ دلالت کاندي. ښاغلی پروفېسر افضل رضا د اسعد سوري د غزل په لړ کښې لیکي:

"اسعد سوري د دنیا د بې ثباتۍ، ګردش او بې وفائۍ ساندې لکه د یو ډېر غمژن غزلګو شاعر وهلې دي. د سوري دربار دې شاعر چې هرکله قصیدې مرثیې لیکلې نو دا توقع ترې مونږ ضرور کولی شو چې د پښتو معیاري غزل به ئې هم ضرور وئیلی وي"(8).

پینځمه صدۍ هجرۍ کښې د پښتو ژبې یو بل شاعر تایمني کاکړ تېر شوی دی. د پښتو دغه قبیله د کاکړ پښتون د زوئ تایمن په نوم شهرت لري. دا قبیله د کوهستان د غور او هرات په زمکه مېشته ده. او د کاکړو پښتنو یو ښاخ دی. تایمني د همدغې قبیلې یو فرد دی. د تایمني تول کلام خو نۀ دی موندی شوی. خو یوه قصیده چې د غیاث الدین

غوري په شان کښې ئې وئيلې ده په لاس راغلې ده. د دغې يو قصيدې په بنياد تاريخ نويسو د تايمني د ژوند ژواك زمانه د غياث الدين غوري دور حکومت (560هـ) سره تړلې ده. لکه څهٔ رنګه چې وړاندې ذکر وکړې شو چې غزل د قصيدې د تشبيب د اثر تر مخه رواج موندی دی او قصيده ګوئي د غزلګوئۍ پېش خېمه ده. نو هرکله چې تايمني هم په قصيده ګوئۍ کښې کمال لرلو نو د غزل د فن نه به څنګه بې خبره ؤ. ضرور به ئې خپل قلبي واردات او عشقي کيفيات په غزل کښې څرګند کړي وي خو مونږ سره ئې د غزل نمونه نشته.

مونږ چې د پښتو شاعرۍ د شپږمې صدۍ هجرۍ تاريخ ته ځير شو نو ښکارندوئ (480هـ) (9) په کښې لکه د ځلېدونکي ستوري ښکاري. ښکارندوئ چې د حميد زوئ (10) ؤ. د غور د سلاطينو درباري شاعر ؤ. او د شهاب الدين په بادشاهي کښې د ډېر درناوي وړ عالم او فاضل شاعر ياد شوی دی. دهٔ هم لکه د تايمني په قصيده خوانۍ کښې ښهٔ کمال درلود او دوئ د خپل انفرادي او امتيازي شان په برکت د پښتو قصيدې بانيان هم ګڼلی شي. نو ځکه مونږ د ښکارندوئ غونډې د معياري قصيده ګو نه دا اميد کولی شو چې که په هر رنګ کښې وي خو دهٔ به غزل وئيلی وي.

د شپږمې صدۍ هجرۍ په اخر کښې د پښتو د عروضي شاعرۍ او ملي وزنونو استاذ ملکيار غرشين (571هـ 1175ء) تېر شوی دی. د دهٔ په شاعرۍ کښې د مستعملې ساده او سوچه ژبې په بنا دا خبره کولی شو چې د دهٔ په رجزيه قسم نظم کښې د غزل ټولې نخښې نښانې موندی شي.

اوومې صدۍ هجرۍ زمونږ په ادبي تاريخ کښې د قطب الدين بختيار کاکي (633هـ 1234ء) (11)په شان د صوفي شاعر اضافه کړې ده. دی د حضرت معين الدين سنجري مريد ؤ (12).

په شېخانو، عارفانو او نېکو خلقو به ګرځېدو د متقي او نېکو کارو د صحبت پرې داسې جوت اثر وشو چې زړهٔ ئې د عشق حقيقي نه ډك شو او د خپلو دغو احساساتو او جذباتو د اظهار دپاره ئې د شعر ژبه

خپله کړه. د دۀ عارفانه کلام که هر څو د پښتو شاعرۍ د نظم په صنف کښې دی خو د مضامینو لکه د بېلتون تذکره، د مینې د لېونتیا ذکر او د اوربل راته وګوره ملوکې غوندې د مینې او عشق د تورو د استعمال نه ئې دا خبره ښکاره کېږي چې دوئ به د شاعرۍ په خوږناك او د مینې او عشق د اظهار په مخصوص صنف غزل باندې هم طبع ازمائیلې وي او د کلام رنګ او اهنګ ئې هم د دې خبرې غمازي کوي.

په همدغه صدۍ کښې يو بل صوفي شاعر شېخ متي (633هـ 688هـ) (13) هم تېر شوی دی. دی د عرفان او معرفت په ميو داسې مئېن ؤ چې هر وخت به ئې د حقيقي مينې او عشق باده په صوفيانه پيالـه کښې نوشله د معرفت شراب ئې دومره څښلي وو چې د افکارو خيالاتو نه ئې هره لحظه بس د حقيقي مينې مترنمه نغمې سازېدې. د شېخ متي د دغه حقيقي مينې او عشق په رنګ، رنګ شوې نغمې نۀ يواځې د صوفيانه مسلك سره کلك تړون او پيوستون لري بلکې د ملي او عروضي اوزانو تقاضې هم پوره کوي همدغه وجه ده چې لکه د نورو شاعرانو شېخ متي هم باقاعده غزل نۀ دی ويلی. خو د دۀ په اشعارو کښې بيا هم په څۀ نۀ څۀ رنګ کښې د ملي غزل روح ښکاري.

د اتمې صدۍ هجرۍ په شروع کښې چې د پښتو ادب د ناوې په جبين کوم ټيك ځلېدلی دی هغه بابا هوتك (661هـ 740هـ) (14) ؤ چې د ادبياتو په تاريخ کښې ئې د دوو کتابونو "نصيحت نامې" او "بحر الايمان" ذکر راغلی دی. دا دواړه کتابونه د پښتو زړې شاعرۍ نادرې نمونې دي. د هوتك بابا د اشعارو څخه دا جوتېږي چې دی يو داسې مبلغ انسان ؤ چې د اخلاقياتو، مذهبياتو د علميت او ادبيت نه ډك اشعار ئې وئيل. شاعري ئې ساده او عام فهمه ده. د صنائع او بدائع تکلفات په کښې بېخي نشته. دۀ په خپله کلهمه شاعرۍ کښې صرف اخلاق او عقائد بيان کړي دي. هر څو که بابا هوتك اخلاقي او مذهبي قسم شاعري کړې ده. ولې د دۀ په شاعرۍ کښې هغه ټول اثرات موجود وو چې د څۀ په سبب د غزل زوکړه يقيني شوې ده.

د همدغې صدۍ هجرۍ بل شاعر شیخ ملکیار (749هـ) (15) دی چې د هوتك بابا مشر زوئ ؤ. او د ادبیاتو د تاریخ پاڼې ئې په عاشقانه مزاج او د حب و الفت په پرسوزه افکارو گواه دي. د شیخ ملکیار عشقیه سندرې د عشق د وارداتو په ډېره ساده ډول عکاسي کوي. (16)

مونږ چې کله د دۀ د عشق و محبت تودو جذباتو او احساساتو ته گورو نو د عشقي سندرو په هر توري کښې ئې راته د پښتو د ملي غزل اثار لکه په مړو ایرو کښې د ژوندو بخرو په شان محسوسیږي هر څو که دی د غزل سره اشنا نۀ ؤ ولې د دۀ د جذباتو او د میني محبت د خوږو تورو لکه د یار او جانان نه دا اندازه لگي چې د دۀ په کلام کښې د تغزل روح شته او چرته چې روح وي نو ضروري خبره ده چې هلته به بدن هم موجود وي نو ځکه مونږ وئیلی شو چې شیخ ملکیار به د غزل په لار هم مزل کړی وي. ښاغلی رضا همداني لیکي:

"شیخ ملکیار هوتك هم د غزل سره نااشنا دی اگرکه د هغۀ کلام کښې د تغزل نخښې شته"(17).

هرکله چې غزل بنیادي طور د عشقي وارداتو او جذباتو عکاس دی او د یار او جانان په تذکرو ئې اډانه ولاړه ده. نو په دې سبب خو د دغو جذباتو او تذکرو د شاعر ملکیار د کلام نه دا څرگندیږي چې دۀ به غزل هم وئیلی وي. ولې تاریخ ترې بې خبره دی.

د پښتو شاعرۍ د دریمې صدۍ هجرۍ نه تر اتمې صدۍ هجرۍ د دور د جائزې په مجموعي توگه دا نتیجه راوځي چې د دغې دور په شاعرۍ کښې د نیم عروضي او نیم ملي غزل اثار موجود وو او تغزل هم په کښې په څۀ نه څۀ رنگ کښې ساه اخستې ده.

❖❖❖

# حوالې


(1) رضا ، افضل، پروفېسر ، پښتو غزل، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، 1978ء. مخ 28.

(2) رضا ، افضل، پروفېسر ، ښاغلی اجمل او پښتو غزل، خوشحال ادبي جرګه اکوړه خټک، د چاپ کال جون 1997ء، مخ 1.

(3) طائر، محمد نواز، پروفېسر ، روهي ادب، جلد دویم، پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي، د چاپ کال 1977ء. مخ 18، 19.

(4) رضا ، افضل، پروفېسر ، پښتو غزل، مخ 29.

(5) حبیبي، علامه عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ اول ټوك، عمومي مطبوعه کابل، 1325هـ ش. مخ 89.

(6) رضا ، افضل، پروفېسر ، پښتو غزل، مخ 30.

(7) ایضاً، مخ 31، 32.

(8) ایضاً، مخ 33.

(9) طائر، محمد نواز، پروفیسر، پشتوزبان وادب ایک مطالعہ، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی،1988ء. ص 17.

(10) محمد هوتك، بن داؤد ، پټه خزانه، د چاپ کال 1989ء په اهتمام د قاسم بنوي، پښتو ادبي مرکز، سرائې نو رنګ. مخ 66.

(11) طائر، محمد نواز، پروفیسر، پشتوزبان وادب ایک مطالعہ، ص 31

(12) حبیبي، عبدالحی، پښتانۀ شعراء، اوله حصه، اداره اشاعت سرحد پېښور ، 1951ء، مخ 27.

(13) رضا ، افضل، پروفېسر ، پښتو غزل، مخ 38.

(14) ایضاً، مخ 39.

(15) حبیبي، عبدالحی، پښتانۀ شعراء، اوله حصه، مخ 39.

(16) رضا ، افضل، پروفېسر ، پښتو غزل، مخ 39.

(17) میاشتنۍ مجله، قند ، (غزل نمبر) جولائي، اګست 1959ء، شوګر ملز (مردان).